**د افغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون**

**د علمي څېړنو معاونیت**

**د علمي څېړنو آمریت**

# د کندهار ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې بزگرانو او مالدارانو ته د دیني، فني او روزنیزو پروگرامونو طرحه

ترتیب کوونکی: د علمي څېړنوآمریت

کال:........................................................................................................۱۴۰۴ هـ ش

# د کندهار ولایت په بېلابېلو ولسوالیوکې بزګرانو او مالدارانو ته د دیني، فني او روزنیزو پروګرامونو طرحه

**۱ـ سریزه:**

کندهار د کرنې او مالدارۍ لپاره له خورا مناسب اقلیم، حاصلخېزو ځمکو او د کرنیزو محصولاتو له لرغوني سابقې څخه برخمن ولایت دی. د دې ولایت زیاتره اوسېدونکي د کرنې او مالدارۍ له لارې د خپل ژوند چارې پر مخ بیایي. خو له بده مرغه، د عصري کرنیزو تخنیکونو او مالدارۍ د علمي مهارتونو کمښت، د اوبو محدودې منابع، اقلیمي بدلونونه، د نباتي او حیواني ناروغیو زیاتوالی، بازار ته د لاسرسي ستونزې، د محصولاتو د ذخیرې او پروسس نشتوالی د بزګرانو او مالدارانو اقتصادي وضعیت ته جدي ګواښ پېښوي.

ټولنه د پورتنیو اړتیاوو سره سره د اسلامي احکامو نفاذ، د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په احکامو پوهاوي ته هم اړتیا لري، تر څو وکولای شو په ښه توګه ورته د عمل جامه په تن او له هر لحاظه یوه سالمه او مؤمنه ټولنه ولرو.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون چې د هېواد په کچه یوازنی زراعتي-تخصصي پوهنتون دی، د علمي مسلکي او دیني علماوو په درلودولو سره دنده لري چې یادو ستونزو ته د حل مناسبې لارې چارې ومومي او د عامه پوهاوي په زیاتوالي کې مستقیم رول ولوبوي. دا طرحه د علمي څېړنو معاونیت / آمریت په هڅو سره د دغو ستونزو د حل، د بزګرانو او مالدارانو د ظرفیت لوړولو، د تولیداتو د زیاتوالي او د اقتصادي ودې د ټینګښت او د اسلامي شریعت د نفاذ لپاره د اسلامي احکامو د خپراوي په موخه جوړه شوې ده.

**۲ - اړتیا او اهمیت:**

کندهار د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې موقعیت لري چې ډېری برخې یې د وچکالۍ او د اوبو د کمښت له ستونزو سره مخ دي. د کرنیزو نباتاتو ناروغۍ، د څارویو ساري امراض، د تخمونو ټیټ کیفیت، د خاورې د حاصلخېزۍ کمښت، د اوبو د ناسم مدیریت او د کښتونو، آفاتو او امراضو په مقابل کې د بزګرانو او مالدارانو لږ پوهاوی هغه عوامل دي چې د کرنې او مالدارۍ سکتور ته تاوان رسوي.

د بزګرانو او مالدارانو مسلکي روزنه نه یوازې د دوی د حاصلاتو او عایداتو د زیاتوالي لامل ګرځي، بلکې د ناروغیو د خپرېدو مخنیوي، د منابعو د معقولې کارونې او د کلیوالي ټولنو د اقتصادي ثبات لپاره هم ډېره مهمه ده.

ANASTU

له بلې خوا د خدای ج په فضـــل په هېواد کې سراسر امنیت او اســـلامي نظام حاکمیت لري، خو بیا هم په ټولنه کې ددیني پوهې کموالی، ځینې وختونه ددې ســـبب گرځي چې بېلابېلې ټولنیزې ســـتونزې رامنځته کړي، دا چې په یاد پروگرام کې د کرنې او مالدارۍ اړوند بحثونه او معلومات ارایه کیږي، بزگران او مالداران هم تر ډیره د ورځنیو چارو او مصرـوفیتونو په اساس ددې موقع نشي۔ موندلای چې خپله زده کړه او یا هم د علماوو په مجالسـو کې پوره گډون وکړي، داسې غونډې به وکولای شي چې د موقع څخه په استفادې د ټولنې عامه وگړو ته د مسلکي پوهې تر څنگ دیني پوهه هم  ور انتقال او د دارینو خیر او سعادت ترلاسه شي.

نو په همدې اســـاس د اناســـتو پوهنتون رهبري او علمي څېړنو معاونیت وپتیله، چې د خپلو علمي-کادري غړو او علماوو کرامو په وســـیله د بزگرانو او مالدارانو ســـتونزو ته د حل په موخه اقدام ترسره کړي، فلهذا د دې روزنیزو پروگرامونو له طریقه به د بزگرانو او مالدارانو په پوهه، حاصلاتو او عایداتو کې زیاتوالی رامنځته شي او د حاصلاتو د تخریب کچه به را کمه کړي.

### ۳ – اهداف:

***الف) عمومي هدف:***

1. د کرنې او مالدارۍ د سکتور د پرمختگ لپاره د بزگرانو او مالدارانو علمي او تخنیکي ظرفیت لوړول.
2. د شرعي احکامو، امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرامینو او د نظام د کړنلارو ترویج

***ب) ځانگړي اهداف:***

- د نباتي او حیواني ناروغیو د وقایې او درملنې په اړه د عامه پوهاوي لوړول.
- د اصلاح شویو تخمونو، کرنیزو ماشینونو او نوې ټکنالوژۍ معرفي کول.
- د اوبو د سپمونې او مؤثر مدیریت طریقې ښودل.
- د حاصلاتو د پروسس او ذخیره کولو مهارتونه.
- د بازارموندنې عصري لارو چارې معرفي کول.
- د طبیعي آفتونو پر وړاندې د مخنیوي او چمتووالي پلانونه جوړول.
- د علمي څېړنو پایلې تر بزگرانو، مالدارانو او اړوند سکتورونو رسول.
- د ټولنې اصلاح او اسلامي اصولو پابندي
- د علمي -څېړنیزو مراکزو او ټولني ترمنځ د همکاریو باب پرانیستل.

## ۴ - کړنلاره (طریقه)

***وخت او ځای:***

یاد روزنیز پروگرامونه به کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست سره په همغږۍ، په دوامداره توګه په هرو دوو هفتو کې یو ځل اجراء کیږي، پروګرام به هر ځل د کندهار ولایت مقام په اجازه او تفاهم سره د کندهار ولایت د (۱۹) ولسوالیو څخه په یوه ولسوالي کې ترسره کیږي.

***د روزنیز ټیم جوړښت:***

د مسلکي او روزنیز ټیم مشري به د پوهنتون د علمي څیړنو مرستیال، یا د علمي څیړنو آمر او د اړتیا په صورت کې د پوهنتون رئیس کوي د ټیم په جوړښت کې به د مشر سربیره دڅیړنو آمریت مسلکي - تخنیکي کارمند، ټرینر استادان، د دعوت او ارشان آمر او یا علماء کرام شتون ولري.

***د موضوعاتو انتخاب:***

موضوعات به د هري ولسوالۍ بزګرانو او مالدارانو ستونزو ته په کتو سره انتخابیږي او بیا د اولیت بندۍ په اساس به د ارایې لپاره ټاکل کیږي.

ټول موضوعات به د پریزنټیشن په شکل ارایه کیږي، تر څو ګډونوال په ښه توګه ورڅخه اخذ وکولای شي. د ارایې د هرې برخې په پای کې به د بزګرانو او مالدارانو پوښتنو ته جوابونه وویل شي.

***د بزګرانو او مالدارانو دعوت کول:***

د اناستو پوهنتون، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست د تفاهم له مخې به په ولسوالیو کې د روزنیز پروګرام ځای مشخص کیږي او بزګران او مالداران به د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست لخوا دعوت کیږي.

## ۵ – اړتیاوې

- پروجکټور او اړوند لوازم
  - د سلایډونو او موادو د ښودلو او نمایش لپاره تر څو ګډونوال په اسانه توګه زده کړه ترلاسه کړي.
- د برق لپاره جنراتور او تیل
  - د کمپیوټر او پروجکټور لپاره برق ته اړتیا شته، چې په تولید کې یې له جنراتور څخه استفاده کیږي.

- انرژي او بیسکوټ
  - دا چې د ورکشاپ موده اوږده او په منځ کې کومه خاصه وقفه نه لري، ددې لپاره چې ګډونوال خسته او خپله علاقه له لاسه ور نه کړي، دا برخه په نظر کې نیول شوې ده. همدارنګه ریفریشمنټ او ډوډۍ د ګډونوالو د تشویق او په وروستیو نورو پروګرامونو کې د ګډون لپاره هم مهم ګڼل کېږي.

- ډوډۍ
  - ددې لپاره چې دا پروګرام په هره ولسوالۍ کې د سهار له ۸:۰۰ بجو څخه پیل او بیا د ماسپښین تر ۱:۰۰ بجې پورې دوام لري، په دې لړ کې بزګران او مالداران چې له لېرې پرتو سیمو څخه راغلي دي، نشي کولای چې د ډوډۍ لپاره ځانونه بېرته خپلو کورونو ته ورسوي، همدارنګه روزنیز ټیم هم تر مازدیګر پورې بیا خپل کور او ځای ته نشي رسېدلی، نو اړتیا لیدل کېږي چې ډوډۍ ورته مهیا کړل شي.

- قرطاسیه
  - د پروګرام د ښه تنظیم او کړنو لپاره کتابچې، قلمونه، مارکر او سپینه تخته.

- ترانسپورټ
  - د مسلکي ټیم د تګ، راتګ او روزنیزو موادو د انتقال لپاره.

- د استادانو او مسلکي ټیم حق الزحمه
  - مسلکي ټیم د پوهنتون له باتجربه علمي غړو څخه ټاکل کېږي، چې د دیني برخې د دعوت لپاره به مجرب علماء کرام ورسره شتون ولري. د معمول په شان په ورته پروګرامونو کې د مسلکي روزونکو لپاره ډېره لوړه حق الزحمه په نظر کې نیول کېږي، د پیسو د سپما او موجوده حالاتو په نظر کې نیولو او ددې لپاره چې زموږ مسلکي ټیم لا تشویق او د هڅو یې قدرداني وشي، یوه لږه اندازه حق الزحمه ورته په نظ کې نیول شوې ده چې په لاندې جدول کې د مشاهدې وړ ده.

**بودیجه**

| شماره | مواد / فعالیتونه | واحد | اندازه | في واحد قیمت (افغانۍ) | مجموعي قیمت (افغانۍ) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د جنراتور لپاره تېل | لېتر | ۸ | ۷۵ | ۶۰۰ |
| ۲ | انرژي | بوتل | ۹۰ | ۳۰ | ۲۷۰۰ |
| ۳ | بسکوټ | تعداد | ۹۰ | ۱۰ | ۹۰۰ |
| ۴ | غرمنۍ | خوراک | ۹۰ | ۱۸۰ | ۱۶۲۰۰ |
| ۵ | د رهبري غړي او مسلکي ټیم حق الزحمه | تعداد | ۷ | ۱۰۰۰ | ۷۰۰۰ |
| ۶ | د مسلکي- تخنیکي کارمند او ډریور حق الزحمه | تعداد | ۲ | ۵۰۰ | ۱۰۰۰ |
| | **عمومي مجوعه (افغانۍ)** | | | | **۲۸۴۰۰** |

**متوقعه پایلې**

- د بزګرانو او مالدارانو د علمي او تخنیکي مهارتونو لوړېدل.
- د نباتي او حیواني ناروغیو کچه راټیټېدل.
- د تولیداتو کیفیت او اندازه زیاتېدل.
- د کرنیزو منابعو مؤثره کارونه.
- د کلیوالي اقتصاد پیاوړي کېدل.
- د ټولنې وګړو د اسلامي پوهې لوړېدل
- د مشرتابه له فرامینو او د نظام له ټولو قوانینو څخه د کلیوالي خلکو پوهاوی

په درنښت

د علمي څېړنو آمریت

پورتنی طرحه د پوهنتون د علمي څېړنو تألیف او ژباړې بورډ په ( ۵ ) ګڼه، ۳۰ / ۵ /۱۴۰۴ نیټه پروتوکول کې ثبت او تائید ده

په درنښت

پوهنمل دوکتور شریف الله شریفي

د بورډ مشر

د بزګرانو او مالدارانو لپاره د فني او مسلکي روزنې طرحه د اناستو پوهنتون د علمي شورا په (۵) ګڼه، ۱۴۰۴/۶/۵ نېټه پروتوکول کې ثبت او تائید ده

د علمي شورا منشي

پوهنمل دین محمد مشفق

په درنښت

الحاج مولوي سید محمد داود آغا الهاشمي

د علمي شورا رئیس

ANASTU